لیکونکی : دنـی سوجرسن (Danny Sjursen).
منبع اودنشر نیټه : انتـی وار «30-11-2018».
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

---

# امریکا په افغا نستا ن کي د نظا می لاری په تاکلو سره دخپل نظا می ما تـی مشری کوی

*America is headed for military defeat in Afghanistan*

***اوس یی وخت رسیدلی چي ومنو چی دا د سیا ست په نسبت زیات دی ، مونږ کولای شو چی دجنګ په ډګر کی ما تی وخورو اودا ما تـی اوس را پیښیږی***

***it is time to acknowledge this is more than politicl we can lose on the battlefield , and it’s happening right now***



دبرابو(Bravo) شرکت لمړی کندک اوم بحری سمندری رژیم په ساحه کی پرسوپر ایسکون هلیکوپټر باندی با رګیری دهلمند په ولایت دیوماموریت په ترڅ کی ( عکاسی – سمندری فوتوګرافر جوزف سکالین )

دلته په دواړو یعنـی هم دوسله والو ځواکونو اوهم د کمربند د چا پیریا ل په مینځ کی یوخورامهم غلبه کید نه یا بریا وجود لری کوم چی هغه داسی یوځه دي چی دامریکی

متحده ایالات هیڅکله په کوم یو جګړه کی د دریم نړی له کوم هیواد څخه پریکړنی نظامی ماتی نه دی خوړلي ما یعنی زه هک ( Heck) پخپله دا با ور درلود . ا ما اوس ولی دافغا نستان ددی روانی جګړی په اړوند مونږ ته ویل کیږي چی امریکا دافغا نستا ن جګړه دځنو سیا سیی عواملو لکه ( دما تی خوړونکي نرم لیبرالیزم په مینځ کی دقا نون د حا کمیت نشتوالی ) له امله با یلی اویا داجګړه دلاسه ورکوي ،حال داچي پوځ هیڅکله دجګړی میدان دلاسه نه دی ورکړی یا نه دی ترشا شوی .

دا په زیا ت اند ا زه د هغه د بد لون پرسر دی چي باید چمتو اووسو اوداځکه چی مونږ اوس دجګړی په حال کی یاستو چی دغه نظامی جګړه دلاسه ورکوو.

دا باید په نظر کی ونیسو او هغه داچي :دامریکی دمتحده ایالاتو پوځ په افغا نستا ن کی په دی له (17 ) کا لو څخه زیا ت موده کی دافغانستان په اړینو امنیتی ځواکونو ته پوره مشوری ورکړی ، مرسته ورسره کړی ، دهغو پر مخا لفینو با ندی بمونه غورځولی او دوامداره جګړه کړی اود خپل څه کم اویا زیا ت(سل زره) نا رینه اوښځینه سرتیرو په پلی کولو سره غیر داړیکو د نیولو او خونړی پیښو څخه بل کوم شی نه دی تر لاسه کړی . نو ا وس وروسته له ( ا تلسو کا لو ) جګړی څخه د کا بل – واشنګټن ایتلا ف دغه جګړه د نظا می لاری څخه دلاسه ورکوی ؟ چی داپخپله سوال زیږونکی دی.

راځی چی د لته د خپل د سترګو د حال لید و- پر موضوعا تو با ندی یو څه تم شو او هغه داچی طا لبا ن د کا ل (2001) څخه کوم چی پرا فغا نستا ن باندی دامریکی له خوا تیری اوتجا وز ترسره شو اود طا لبا نو امارت ړنګ شو نو طا لبا نو اوس له هر وخته څخه را په دی خوا دا فغا نستا ن زیا تی برخه تر خپل ولکی لاندی راوستی دی یعنی ا وس د ستی دا فغا نستا ن (44) سلنه اولسوالی پخپل تصرف کی لری له بلی خوا څخه سږکال د نورو کلونو په پرتله کولوسره زیات ملکی کسان یعنی تر (شلو زرو) خپل ژوند دلاسه ورکړیدی چی دا پخپله یو بوږنونکی رقم او ریکا رد دی دافغا ن د پوځیانوتلفا ت په ښکاره توګه سره بی ثبا ت اود نوسان په حا لت کی دي- طا لبا نوزیات دولتی اویا حکومتی کا رکونکی وژلی یا لاتراوسه وژنی چی د مړینی کچه په کا ل (2015) کی (5500) ، په (2016) کی (7600) اوپه (2017) کی (10000) شا وخوا کی اټکل شوی دي – په هرصورت ځنی خلکوممکن پوښتنی وکړی چی دامریکی هوایی ځواک ولی نشی کولای چی طا لبا ن له مخه لیری کړی یا هغوی کمزوره کړی ؟ آ یا دا ډ یره سخته دی ؟هوکی : او هغه داچی طا لبا نو دهیواد د نا امنی له امله دا فغا نستا ن ډیر زیاتی برخی تر خپل تصرف لاندی راوستلی دی سره له هغه چی امریکا یا نو د نورو کلونو په پرتله سږ کا ل په ا فغا نستا ن کی ډیر بمونه هم غورځولی دی. نو ددی پورتنیویا دونو څخه دا سی را ښکا ری چی امریکا یا نو دغه جګړه د نظا می له لاری څخه نشی ګټلی یا بری نشی ترلاسه کولای .

د لته یعنی په ا فغا نستا ن کی ډ یر تا زه او نوی پیښی دادی چی افعا نا ن د خپلو د
توپکو خوله ا مریکا یی مشا ورینو ته یعنی خپل متحد ینو ته واوړول کوم چی یو
امریکا یی جنرال یی ټپی کړ اودامریکی لوړ پوړی عمومی قوماندان دشد ید ګواښ سره
مخا مخ کړی اوهغه هم په داسی حا ل کی چي دامریکي دپوځ دسرتیرو شمیر د کال
(2001) را په دی خوا ډیر کمه شوی دي مګر دامریکی دسرتیرو دمړینی کچه مخ
په زیا تیدو دي اوهغه هم د شکر ګذاری (امریکا یا نو په دی موسم کی د خپل ژوند او
نعمتونو ته دلاس رسی په اړه د خدای له دربا ر څخه شکر کوی ) په موسم کی یو
امریکا یی ګزمه کونکی سرتیری په یو دوستا نه غیر عمدی پیښه کی ووژل شو او
دری نور سرتیری دسړک دغاړی په یو انتحاری چاودنه کی ووژل شول. اوهغه څه
چی دا اوس هم داند یښنی وړ خبره دي هغه دنا سم تفا همو اود نظریا تو موضوع اویا
روا یت دی چی دامریکی لوړ پوړی عمومی قوماندان په افغانستان کی دخپل (M4)
ماشیندارسره ګرخي او ځا ن سا تی ، اودا له هغو ورځو څخه ډیر وروستی دي کوم چی



M4- -Rifel

جنرال پتریوس(یوائی دسرتیرو له خوا دهغه امنیت نیول کیده ) اوهغه پخپله دیو بیره یی
خولی سره بی د زریوی واسکټ اویا کا لیوسره دعراق د بغداد په بازارکی ګشت وګذ ر
کول .
تر ټولو مهم داچي دا فغا ن د پوځ اود پولسو منسوبین په لویو او غټو بریدونو کی
زخمی کیږی اوبی له کوم انکا ره زیا ت تلفا ت ورکوی او له مینځه ځی دشکرګذاری
په ورځ کي (26) امنیتی افغا نی سرتیرو ووژل شول اود یکشنبی په ورځ په یو بله
حمله کی (22) پولیسو خپل ژوند دلاسه ورکړل اوهم د سه شنبی په ورځ (30) غیر
نظامیان دهلمند په ولایت کی ووژل شول اودا یوائی هغه لوی او غټ حملی وه چي
په غیرمترقبه پیښو کی د هیواد په سرا سری کی سرتیرو خپل ژوند دلاسه ورکوي دا
ټول هغه څه دي چی په ښکاره توګه سره ثابتوی چی دافغان امنیتی ځواکونه سره له
هغه چی دامریکایی مشاورینو پواسطه سره روزل شوی ، تجهیز شوی ا و تجربی تر
لاسه کړی بیا هم نشی کولای چی په دی جګړه کی د خپلو متحد ینو سره یوځای بریا
تر لاسه کړي دابه ډیر ښه وی چی واشنګټن زر تر زره دا حقیقت ومنی اونور زمونږ
امریکایی سرتیری په ډیر غلی او آرا م مکا رانه دورغ ویلو سره نورونه غلوی چی

امریکایی سرتیری کوم چي هغه پە صا دقا نه وظیفوی چمتوالی سره پە ډ یر نا امیدی د یو غلطی اود یو دروغ له امله ژوند دلاسه ورکړی .

اوس دغه لیکونکی پە پریکړنـي بڼی سره دخپلو همکا رانو اود سرپرستا نو څخه کوم چی هغوی لاتراوسه پە فعا له بڼه پە چوپړ کی دی له هغو څخه د موجوده ستونزو پە اړین د ځواب د ترلا سه کولو د پا ره پە سختـه اوشد ید نیوکی سره پوښتنی کوی او دا دپوهیدو وړ دی چي اکثر مخکینی نظامیان د نظا می لاری د حل د نه ماتیدونکی پلویا نو پە نوم سره که ونومول شی زیا ت خوشحالیږی ،حتی تر هغه چی خپل شخصی احساسات دلاسه ورکوی یا د خپلو دوستا نو کوم چی هغوی پە کلونو کلونو له خپل کورنو څخه لیری پە جګړو کی بخت وه اوس دجګړی دغه د نظا می لاری مخکینی پلویانو ته دخپل ځوانی ژوند ډالی کوی. اوس اصلی سوال دادی چی آیا دا فغا نستا ن د موجوده کشا لی او ستونزی دحل لاره نظامی دي؟ اویا پە ځانګړی بڼی سره دیو نظا می ما تی پیش بینی یا وړاند یز.؟ کوم چی دا پخپله د جنګ پە چا پیریا ل کی د خپل روحی روانی داحسا س لوړول دی .

پە هرصورت اوس د دی ضرورت لید ل کیږی چی دغه د امریکی د متحده ایالاتو د ترټولو د اوږدی مودی جګړه د یو شفا ف ستراتیژی پە رڼا کی پە پوره انصا ف اوایما ند ا ری سره موجوده واقعی نظا می وضیعت با ید وڅیړل شي کوم چی دعا دت له مخی پنټاګون هم معیاری اطلاعات اوارقام خوښوی یا یی خوښیږی کوم چی د همدی اصل پە رڼا کی دا فغا نستا ن پە سطح کی ورځنی زیاتیدونکی ټول امنیتی معیا رونه د نظا می اړوند له پلوه د پشرفت اود پرمختګ پە لوری ښیی یا پە عمدی بڼی سره اشاعه کوی او د بیلګی پە بڼه دا سی را پور ورکوی چی دا فغا نستا ن پوځیا ن د خپلو امریکا یی مشاورینو سره بی د کوم ستونزی کولای شی چي دهوا دلاری د ا فغا نستا ن شما لی اودغربی زیا تو ولایتونو ته سفر وکړی اما طا لبا نو یواځی پە جنوب او جنوب شرقی کی تګ اوراتګ کوی او بس .چی دا پخپله پە کا فی اندازه سره د نظا می اودغیر نظامی رهبرانو دپاره ډیر ناولی او ناپسند نظامی حالت دی کوم چی واشنګټن به له سره دی ته اړ کړی چی ا فغا نستا ن ته (١٠٠) سرتیری ولیږی اوداځکه چی واشنګټن ا وس پە ا فغا نستا ن کی یواځی غوټه یا ا ړیکی سا تلی دی اوهغه هم د ډ یر مجبوریت اوداجتنا ب نا پریری له مخی .

د متحده ایالاتو پوځ ټول هغه څه ترسره کړل چې په افغانستان کې د 17 کلونو جګړو په جریان کې وپوښتل شول. دا پرځای شوه، بمبا ري وشوه، دا جوړه شوه، سرغړونه یې وکړه، دا یې ... هر څه. بیاهم، هیڅ یو یې کافي نه وو. اما اوس ا فغا نان په ځمکه کې د جګړې لپاره د طالبانو ملاتړ کوي یا د اشغال څخه نفرت کوي، اودهیواد زیات برخي د روایتي او غیر روایتي یا تعرقي عملیا تو له لارې اداره کیږي. او " په ځمکه کې"

هغه څه دي چې واقعا یې واقع دي. دا جګړه ممکن په سمه توګه مشوره شوې نه وه او د پیل څخه ممکن د نه منلو وړ یو جګړه وه.

په ما تې کې شرم نشته. مګر شرم پیمان شکنی اوخیانت کی دی، یا له حق څخه بېده کول یا پټول. دا هغه څه دي چې تول پوځي سیا سي تا سیسا ت د ویتنا م څخه وروسته ترسره شوي، او زه ویره کوم، دا هغه څه دي چې بیا یې کوي.

دمقالی دلیکونکی په اړه څو کربنې : ډینی سرجن د امریکایی پوځ افسر او د امریکایی محافظه کارانو لپاره منظم مرسته کوونکی دی. هغه په عراق او افغانستان کې د استخباراتو واحدونو سره جنګي دورې ترسره کړې او وروسته یې د لوید یځ په لویدیځ کې د هغه په الما میتر کې تاریخ ښوونه وکړه. هغه د عراق د جګړې یادداشت او د انتقالي تحلیل لیکوال دی، اودهغه لیکنی د بغداد غزه رژیمونه: سرتیري، ملکیا ن، او د خطر افسانه ده.

------------------------------- په درنا وی «2018-12-06»